## شارع
د قرآن او سنت په چوکاټ کې د خدای تعالی (ج) او حضرت محمد (ص) لارښوونې او ددې دوو سرچينو څخه نور اخيستل شوي ديني ارشادات دي.
دری: [شارع]

## شاړه ځمکه
هغه ځمکه ده چې په عادي شرايطو کې په پرله پسې توګه، له پنځو کلونو نه زيات پکې کر نه وي شوی او وروسته له اصلاح (جوړېدو) يا د اوبو لګولو د نوي سيستم له منځته راتلو څخه تر کرنې او زراعت لاندې ونيول شي.
دری:[زمين بائر]

## شاقه حبس
هغه حبس دی چې پکښې محکوم شخص د بند د مودې د ترسره کولو پر مهال، په يولړ سختو اعمالو او کارونو هم مکلف کيږي.
دری: [حبس شاقه]

## شاقه کار
هغه کار دی چې پر يوه محبوس د يوې اضافي جزا په صفت او د هغه د لا زيات تعذيب په مقصد تحميلېږي.
دری:[کار شاقه]

## شاقه کارونه
له هغو کارونو څخه عبارت دي چې د محکوم لپاره د آزادۍ د سلبولو په وخت کې د با صلاحيته محکمې له خوا له قانوني احکامو سره سم ټاکل کېږي.
دری:[اعمال شاقه]

## شاکي
هغه شخص دی چې دجرم له ارتکاب څخه د زيان او ضرر متحمل شوی وي د دعوی د تحريک او د حق غوښتونکی وي.
دری:[شاکی]

## شاهد
هغه شخص ته ويل کيږي چې د يو امر د وقوع او يا پر يو بل شخص باندې له يو حق د شتون څخه خبر وي او عندالمطالبه د قضأ په مجلس کې هغه بيان کړي.
دری: [شاهد]

## شايع اغلبيت
هغه اصطلاح ده چې د عام دود او عادت او د خلکو د تعا مل د پېژندلو معيار شمېرل کيږي.
دری: [اغلبيت شايع]

## شايعه برخه
له هغې برخې څخه عبارت ده چې د شريک مال د اجزاؤ په هره برخه که مخلوط وي.
دری:[حصه شايعه]

## شبنامه
هغه تبليغاتي پاڼې چې د يو واکمن سياسي نظام د سياست، پاليسۍ او د قدرت د دوام پر خلاف د ځينو عناصرو، ډلو يا مخالفو ګوندونو په واسطه د نظام د ړنګولو او په پټه توګه د خلکو د ملاتړ د جلبولو لپاره خپرېږي.
دری: [شبنامه]

## شبه عمدي قتل
د يوه فعل د قصد له انجام څخه پرته د هغه د نتيجې له قصد څخه عبارت دی. (د عبدالقادر (عودة) تعريف).
دری: [قتل شبه عمد]

## شبهة
هغه شی دی چې د ثابت سره مشابه وي، خو ثابت نه وي. په بل عبارت د صورت له مخې يو مباح شی دی، خو حقيقتاً او حکماً منعدم دی. د فاعل انکار د حدودو په جرمونو کې له اقرار وروسته، په داسې حال کې چې اقرار يواځينۍ وسيله د اثبات لپاره ګڼل کيږي او د حدودو جزاګانې پرهغه نه تطبيق کيږي.
دری: [شبهة]

## شبهه
هغه حالت چې په هغه کې يو شئ صورتاً مباح وي اما حقيقتاً او حکماً منع وي دری: [شبهه]

## شپه
د لمر د پريوتو او راختو ترمنځ واټن ته ويل کېږي. (سرقت ته دې مراجعه وشي). دری: [شب]

## شتم
د پېغور ورکولو، نا سزا ويلو او ناوړه الفاظو کارول دي. دری:[شتم]

## شتمني
د اشخاصو د مالونو، مالي حقوقو، پورونو (ديونو) تعهداتو او اعتباراتو څخه عبارت دی. مالونه او مالي حقوق د حقوقي شخصيت د شتمنۍ مثبتې، او پورونه او تعهدات د شتمني منفي برخې تشکيلوي. دری: [دارایی]

## شجاج
هغه ټپ دی چې د بدن پر ظاهري برخو په تېره بيا سر او مخ باندې وارد شوی وي. دری:[شجاج]

## شخصي احوال
د شخصيت هغه خصوصياتو ته وايي چې له حقوقي لحاظه په کې وضعيت او اهليت شامل وي.
دری:[احوال شخصی]

## شخصي تساوي
د مالياتو د پيسو حصول او وضع کول دي د مؤدي (ماليه ورکوونکي) د مالياتي استطاعت په تناسب
دری: [تساوی شخصی]

## شخصي حقوق
شخصي حقوق هغه واکونه دي چې اشخاصوته د نورو په وړاندې د قانون له حکمونو سره سم په نظر کې نيول شوي دي. دری:[حقوق شخصی]

## شخصي دين
هغه دين دی چې په عين پورې اړونـد نـه وي بلکې د شخص پر ذمه لازم شوی وي. دری:[دین شخصی]

## شخصي ضمانت
هغه حالت دی چې په هغه کې شخص د يو حق د ورکړې ضامن وګرځي. دری: [ضمانت شخصی]

## شخصي مسووليت
هغه ځواب وينې دي چې د يو شخص پورې ځانګړې وي. دری: [مسوولیت شخصی]

## شخصي مشدده حالت
رواني او ذهني حالت چې د جرم د ارتکاب په وخت کې د مجرم سره وي. دری: [حالت مشدده شخصی]

## شخصي وثيقه
هغه حق دی چې د پور ورکوونکي د ګټې په مقصد د پور د لاس ته راوړلو لپاره د درېيم شخص (پرته له مديون) له خوا منځ ته راځي، شخصي وثيقه ورته ويل کيږي. دری:[وثیقه شخصی]

## شديد قصد
هغه قصد دی چې مجرم په پوره فکر او تأمل سره د جرم د ترسره کولو بنه او د هغه د ترسره کولو لپاره مناسب وخت ارزولی وي او تر هغې وروسته د جرم د ترسره کولو په اړه تصميم ونيسي. دری:[قصد شدید]

## شرط
شرط په راتلونکي کې د هغې احتمالي امر پيښېدل دي چې د عقد دواړه خواوې يا ايقاع کوونکی او يا د عقد دواړو خواوو له ډلې څخه يوه خوا د عقد يا ايقاع د حقوقي اغيزی را منځته کيدل (په قسماً او يا هم د هغې يوه برخه) د هماغه امر پر احتمالي پيښېدو پورې اړونـد وګڼي. دری:[شرط]

## شرطپانه
هغه سند دی چې د عقد د تړلو لپاره حتمي ګڼل کېږي او مخکې له دې څخه چې تړون منعقد شي بايد له اړوندو خواوو څخه وړاندې او ومنل شي.
درى: [شرطنامه]

## شرعي املاك
هغو ملکيتونو ته ويل کيږي چې د معتبرو قانوني اسنادو، سوابقو شواهدو او ښکاره مالکانه تصرف له مخی چې باطل کوونکی يې موجود نه وي، ثابت شي.
درى:[املاک شرعى]

## شرعي حاكم
د شرعي حاکم ياله قاضي څخه عبارت دی چې د هېواد د لوړي شخص له خوا د هغه د لياقت او اهليت له مخې د دعوا ګانو د حل او فصل لپاره ګمارل کيږي او د قانون له حکمونو سره سم فيصله کوي. درى: [حاکم شرع]

## شرعي حكم
هغه شرعي خطاب (دلالت)، چې د مکلفو افرادو په افعالو پورې تړلی وي. درى: [حکم شرعى]

## شرعي حيله
هغه کړنې چې د يو امر د مشروعيت لپاره چې پخوا شرعاً منع دی په کار اچول کيږي. درى حيلهٔ شرعى]

## شرعي سبب
هغه دی چې د عمل سبب مباشر د شرعي نصوصو په اساس مينځ ته راوړي. درى: [ سبب شرعى]

## شرعي شرط
هغه شرط دی چې د شرعې له خوا مقرر شوی او له شتوالي پرته يې عقد نه منعقديږي. درى:[شرط شرعى]

## شرعې برخې
هغه ټاکلې برخې دي چې له ورثې څخه هر يوه ته د شريعت له حکمونو سره سم په متروکه مال کې ټاکل شوي دي. درى:[حصص شرعى]

## شرعی دخول (مجوزه دخول)
له خپلې ښځې سره د شخص له هغه حقيقي آميزش څخه عبارت دی چې د واده د عقد پر بنسټ په شرعي او قانوني توګه روا او مجاز وي او د مصاهرې حرمت رامينځته کوي. درى: [دخول شرعى (مجوزه)]

## شريك
هغه شخص چې له بل شخص يا اشخاصو سره په مال، حقوقو، تعهداتو او شيانو کې ذيحق وي. درى: [شريک]

## شريك اجير
هغه اجير دی چې مستأجر ته د کار په ترسره کولو مقيد ندی ګڼل شوی بلکې کولای شي د هر چا لپاره کار وکړي. درى:[اجير مشترک]

## شريك دين
عبارت له هغه دين څخه دی چې د سبب د اتحاد په صورت کې شريک ګڼل کيږي. درى:[دين مشترک]

## شريك ديوال
هغه ديوال دی چې د څنګ په څنګ ملکيتونو خاوندانو يې يو له بل څخه د ملکيتونو د بېلولو په موخه په ګډه په جوړولو اقدام کړی وي او دواړه وربانـدې مشترک حقوق لري. درى:[ ديوار مشترک]

## شريك محكوميت
هغه محکوميت دی چې په کې دوه يا څو تنه اشخاص د عين جرمي عمل د ارتکاب له مخې محکوميږي.
درى:[محکوميت مشترک]

## شريك ملكيت
له هغه ملکيت څخه عبارت دی چې د دوو نفرو او يا زياتو ترمنځ شريک وي او هر يو يې د خپلې حصې په اندازه له هغې څخه د قانون له حکمونو سره سم د ګټې اخيستلو او يا تصرف کولو حق لري.
درى:[ملکيت مشاع]

## شریکان

هغه اشخاص چې یو له بل سره په یوه شي یا شیانو او یاهم حق یا حقوقو کې شریک وي. دری:[شرکا]

## شطب

په یوه سند کې پر یوې لیکنې د خط کش کول دي چې د جرم په مقصد وي او قابل مجازات دي. دری: [شطب]

## شفع

د پیسو په بدل کښې په اخیستونکي باندې د ټولو یا ځینې خرڅ شوي عقار د تملك له حق څخه عبارت دی.
دری: [شفع]

## شفیع

هغه شخص ته ویل کیږی چې د شفعې حق ولري.
دری:[ شفیع]

## شك

د یو امر په وقوع او عدم وقوع باندې له تردد څخه عبارت دی. دری: [شک]

## شکایت

د مجني علیه شفاهي یا تحریري بیان چې پربنسټ ئې د جزایی دعوی هڅونه صورت مومي. دری: [شکایت]

## شکلي دفاع

شکلي دفاع هغه ډول مدافعه ده چې مدعي علیه په خپله دفاع کې د دعوی پر ماهیت تماس نه نیسي بلکې د دعوی پر شکلیاتو تمرکز لري. دری: [دفاع شکلی]

## شکلي قانون

هغه مجموع قواعد دي چې د محاکمو محاکماتی اجراآت تنظیموي. دری: [قانون شکلی]

## شکلي محض دفاع

شکلي محض دفاع له هغې ډول مدافعې څخه عبارت ده چې مدعي علیه پرته له دې چې خپله دفاع د دعوی پر ماهیت باندې متمرکزه کړي، کولای شي چې خپله شکلي دفاع د مدعي پر دعوی وړاندې کړي.
دری: [دفاع شکلی محض]

## شکلی شرایط

کوم شرطونه چې د عقد یا حق د ماهیت د تحقق مونډلو لپاره له هغې نه بهر په شرعي، قانوني او یا عرفي توګه په نظر کې نیول شوي وي. دری: [شرایط شکلی]

## شکنجه

هغه ډول نا مشروع یا ناروا عمل دی چې په جسمي او روحي لحاظ د حقیقي شخص د ځورولو سبب شي. (غلا ته دی مراجعه وشي). دری:[شکنجه]

## شهادت پر شهادت

هغه شهادت دی چې یو شخص د اصلي شاهد په شهادت باندې د محکمې په وړاندې شهادت ادا کړي.
دری: [شهادت بر شهادت]

## شهادتنامه

هغه مطبوع سند دی چې د تعلیمي یا تحصیلي دورې د پای ښکارندوی وي چې له واکمنو مراجعو څخه صادر او د تحصیلي کچې د تثبیت ښکارندوی وی.
دری:[شهادتنامه]

## شیخوخیت

هغه حالت دی چې په هغه کې یو ځوک د زړښت پر اثر خپل اهلیت، دماغی او جسمی توانایی، له لاسه ورکوي.
دری:[شیخوخیت]